# Refugee Legal:

Pashto

## مهم مالومات:
## د TPVs/SHEVs په بدلولو کې دایمي ویزه ته بدلونونه

فدرالي حکومت د وضعیت د حل کولو ((Resolution of Status (RoS)) (**RoS** **ویزه**) کې دوه مهم بدلونونه د 19 اکتوبر 2023 څخه اعلان کړي دي. دا مالوماتي پاڼه هغه څرګنده وي:

- هغه کلیدي بدلونونه؛ او
- څرنګه اړینه او وړیا قانوني مرسته ترلاسه کړئ.

### 1. بدلونونه چې څوک د RoS دایمي ویزې لپاره وړ دي

په قانون کې بدلون راغلي د ډاډ د ترلاسه کولو لپاره چې هر هغه څوک چې د حکومت لخوا د RoS ویزې لپاره د لاسرسی موندلو اراده درلوده اوس یې وړ دی. دا پدې مانا ده چې د خلکو نوې ډلې اوس د RoS ویزې لپاره غوښتنه کولی شي یا د دوی شته لنډ مهاله د ساتنې ویزه (**TPV**) / د خوندي پټنځای او کار ویزه (**SHEV**) غوښتنلیک په اتومات د RoS ویزې غوښتنلیک ته بدل شوی.

**مهم:** هر هغه څوک چې د دې بدلونونو د مخه د RoS ویزې لپاره وړ وو اوس هم به وړتیا ولري.

#### نوې ډلې چې اوس د دې وړتیا لري؟

- هغه خلک چې په 14 فبروري 2023 د SHEV/TPV درلوده مګر د دوی ویزې پای ته د رسیدو دمخه یې د RoS ویزې لپاره غوښتنلیک نه وي کړې اوس د ImmiAccount له لارې RoS ویزې لپاره غوښتنلیک کولی شي.
- هغه خلک چې د SHEV/TPV غوښتنلیک لري (کوم چې د 14 فبروري 2023 د مخه شوی وي) دا غوښتنلیک به اتومات د RoS ویزې غوښتنلیک ته بدل کړي شي، یوځل چې دوی د SHEV/TPV معیارونه پوره کړي. په دې ډلو کې د خلکو لپاره د RoS ویزې بدلول به په اتومات ډول ترسره شي او کوم ډول اقدام کولو ته به تاسو اړتیا ونلرئ. هغه ډلې چې دا پرې پلي کیږي په لاندې ډول دي:
  - هغه خلک چې د خپل لومړي د SHEV/TPV لپاره غوښتنلیک کوي چې د خپل ساتنې رسمي ادعاوې نلري مګر د هغو کسانو د کورنۍ غړي دي څوک چې د خپل ساتنې رسمي ادعاوې لري؛
  - هغه خلک چې په 14 فبروري 2023 کې SHEV/TPV نه لري مګر پخوا یې SHEV/TPV درلوده (چې لغوه شوې نه وه) د دې نیټې د مخه؛ او
  - هغه خلک چې SHEV/TPV لپاره یې غوښتنلیک کړې کوم چې نهایي شوي وو مګر دوی هیڅکله SHEV/TPV نه درلوده.

### 2. د RoS ویزې غوښتنلیک ورکوونکیو لپاره د پېژندنې په اړه نوي اړتیاوې

قانون کې بدلون راغلي د RoS ویزې د غوښتنلیک ورکوونکیو د پېژندنې لپاره نوې اړتیاوې

#### دا بدلونونه څه دي؟

د کورنیو چارو وزارت څانګه (**وزارت**) د RoS ویزې غوښتنلیک ورکوونکیو څخه اوس غوښتلې شي چې د دوی د پېژندنې په اړه اضافي مالومات چمتو کړي. وزارت دا ویلي چې دوی دا کار کوي که چیرې:

- دې غواړي چې د پېژندنې مالومات روښانه کړي او هر ډول غلطي سمې کړي؛ یا
- د غوښتنلیک ورکوونکیو د پېژندنې په اړه نوي مالومات چې پخوا وزارت ته نه وو په ګوته شوي، اوس شتون لري او وزارت په دې باور دي چې پېژندنه په روښانه ډول نده څرګند شوې.

که چیرې وزارت د پېژندنې په اړه د پام وړ اندیښنې ولري، دې کس ته بیا هم د RoS ویزه ورکول کیدی شي که دوی:

- کورنۍ ولري چې RoS ویزه لري؛ یا
- د ساتنې ویزې لپاره معیارونه پوره کوي؛ یا
- ډیر جدي د ترحم وړ وضعیت ولري.

که چیرې وزارت د یو کس د پېژندنې په اړه نور مالوماتو ته اړتیا ولري، دوی ته به د ځواب ویلو فرصت ورکړل شي. موږ تاسو سره پدې کې مرسته کولی شو.

#### دا بدلونونه په چا باندې پلي کیږي؟

- ټول هغه کسان چې RoS ویزې لپاره غوښتنلیک ورکوي؛ او
- ټول هغه کسان چې د دوی SHEV/TPV غوښتنلیک اتومات RoS ویزه ته بدل شوی.

خوبیا هم، وزارت ویلي چې دا به یوازې د پېژندنې په اړه نورو مالوماتو ته اړتیا ولري چیرې چې د پېژندنې په اړه د مالوماتو روښانه کولو ته اړتیا لري.

دا بدلونونه په اوسنیو RoS ویزې لرونکیو باندې نه پلي کیږي.

#### قانوني مرسته به څنګه ترلاسه کړې

دا اړینه ده چې قانوني مرسته وغواړئ که تاسو د دې بدلونونو لخوا اغیزمن شوي یاست. په ویکتوریا، سویلي آسټرالیا او شمالي سیمه کې د وړیا قانوني مرستې لپاره، Refugee Legal سره په دې پته اړیکه ونیسئ:

- SHEV/TPV Refugee Legal TPV/SHEV اړیکې کرښه - د دوشنبه تر جمعې د سهار له 9:00 بجو تر ماسپښین 5:00 بجو پورې په 9413 0133 (03) شمیره باندې اړیکه ونیسئ
- بریښنالیک: Rosvisa@refugeelegal.org.au | ویب پاڼه: www.refugeelegal.org.au

په نورو ایالتونو کې د وړیا قانوني مرستې لپاره: https://immi.homeaffairs.gov.au/Visa-subsite/files/english-ros-factsheet.pdf